# د روسي یرغل یوه دردونکې اونی

## (ناول)




لیکوال

[illegible]


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کتاب ځانګړنې:

| | |
|---|---|
| کتاب: | د روسي یرغل یوه دردونکې اونۍ (ناول) |
| لیکوال: | انجنیر سید احمد شاه سادات |
| فیسبوک: | Syed Ahmad Shah Sadaat |



**انجنیر سید احمد شاه سادات**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

د ټولــو هغــو شــهيدانو ارواوو تــه، د هغــو ميـنــدو شــونډو تــه، چــې بــې لــه نــاره ســوځېدلې، او د هغــو ماشــومانو ســترګو تــه، چــې د وطــن رڼــا يــې تــر ټولــو مخکــې وليــده، خــو د ژونــد تودوخــه يــې ونــه ومونــده. کــه څــه هــم د تــاريخ پــاڼې تــل د ځواکمنــو لــه خــوا ليکــل شــوي، خــو دا کيســه د هغــو خلکــو غــږ دی چــې ټپــي وو، خــو مــات شــوي نــه وو. او دا غــږ بــه تــل پــاتې وي. تر څو چې يو افغان وي تل به دا افغانستان وي.

زما له زړه نه، ستاسو د زړه لپاره

انجنير سيد احمد شاه سادات

(c) ketabton.com: The Digital Library





## سریزه

زه، لا لس کلن ماشوم وم... هغه، چې د بمونو له زغروونکي شور سره به یې زړه له سینې ووت، خو چیغې به یې خولې کې بندولې، ځکه چیغې به یې مور او پلار ته اندېښنه زیاتوله . هغه، چې د مور او پلار د څادر تر شا به یې د خوندي توب تمه لرله، خو د توپونو له اوازونو څخه، نه څادر خلاصون ورکاوه، نه دعا. هغه، چې خپل دوه کلن ورور یې تر ملا تړلی و، او د غرونو پر سختو او بوټي ناکه لارو یې د ژوندي پاتې کېدو یوه نالوستې کیسه لیکله، کیسه چې کلمات نه، بلکې زخمي پښې او وړې شېبې یې جوړولې. دا ناول یوازې زما د ژوند پاڼه نه ده. دا د هغه پلار درد دی چې د خپل زوی د جنازې پر ځای، د کور کنډوالې ته ګوري. دا د هغې مور آه ده، چې خپل ماشوم یې د یخنۍ، لوږې یا د روسي توپ د شګاف لاندې له لاسه ورکړ. دا د هغو ماشومانو دروند چوپتیا ده، چې خپل ماشومتوب یې د جنګي الوتکو تر سیوري لاندې د کنډوالو پر خټو کې دفن کړل. دا یوه اونۍ وه - هو، یوازې یوه اونۍ - خو د دې یوې اونۍ درد، ستړیا، وېره، لوږه او یخني د تاریخ د اوږدو لسیزو له هر فصل څخه درنه وه .دا هغه اونۍ وه چې وخت پکې ولاړ و، هره لحظه پکې یو عمر وه، او هره ساه پکې یو جنګ. زه دا کیسه د هغوی لپاره لیکم، چې مړه شول، خو هېر نه شول. د هغو لپاره چې ژوندي پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library


**شول، خو ژوند ترې ولاړ. د هغو لپاره چې تاریخ یې له ټوپکو، بمونو او دښمنیو سره لیکل شوی و، نه له قلم او کاغذ سره. که دا کیسه دې ولوستله، نو پوه به شې چه دا د خیالونو داستان نه دی. دا د سوځېدلو کورونو، د یتیمانو چیغو، د مړو ځارویو، او د ژوندي پاتې کسانو د خاموشو سترګو غږ دی.**

**دا د هغو خلکو چیغه ده، چې وسلې یی نه لرلې، زغره یې نه درلودله، خو زړونه یې د غرونو په شان کلک وو. زما ملت له خاورو راپاڅېد، ځکه دا خاوره یې د وینې، دعا او صبر له شیدو خړوبه کړې ده.**



(c) ketabton.com: The Digital Library




## لومړی فصل
## د پسرلي وروستۍ شپه

دره نور ولسوالۍ د مجاهدينو تر ولکې لاندې وه. درې مياشتې پرې تېرې شوې وې. د سرکونو پر اوږدو، مجاهدينو د روسانو ټانکونو ته ماينونه غځولي وو، لکه زهرجن ماران چې د ښکار په کمين ناست وي. د پسرلي تازه نسيم لا نه و زړېدلی، چې وېرېدونکي خبرونه راورسېدل : (دغه اونۍ روسي لښکر دره نور ته د يرغل تابيا لري)... ثور مياشت وه اته ويشتم تاريخ د ١٣٦٢ هجری شمسی کال وو، خو د درې نور پر غرونو نور د پسرلي سندرې نه اورېدل کېدې. شنې ونې لکه ولاړې مجسمې چوپې ولاړې وې، گلونه شکېدلي وو، خو په خندا کې يې تلوسه نه وه. هوا کې د تازه گلونو بوی نه و، بلکې د يوه ناديدلي طوفان تريخ بوی خپور و - داسې بوی، چې د وېرې زرغون سيوری له لرې ښکارېده، لکه د غره له بلې غاړې راتلونکې زلزله. زموږ په سيمه کې دا د روسي لښکرو د يرغل لومړی وار و - خو داسې وار، چې نه يوازې کورونه يې ولړزول، بلکې زړونه يې هم ټوټه - ټوټه کړل . دا يوازې د توپونو غږ نه و، دا د يوې دورې پای و؛ د امن، خوشحالۍ او کرار ژوند پای. او د بلې د وېرې، تيارو او هجرتونو دورې دردناک پيل. د ورځې لمر ورو - ورو پر غرونو خپرېده، خو هغه رڼوالی يې له لاسه ورکړی و، چې پسرلي ورسره خوښي راوړه. د کليو ماشومان، چې پخوا به يې له غرونو شنه پټې راټولول، اوس چوپ، غلي، او د غږ له شرمه تيريدل. د دوی سترگو کې پوښتنې

(c) ketabton.com: The Digital Library


ښکارېدې - هغه پوښتنې چې ځواب يې د لويانو په خاموشۍ کې پټ و. داسې خاموشي، چې د طوفان نه وړاندې چوپتيا ته ورته وه. زه لس کلن وم. هغه ورځ لکه د نورو ورځو غوندې نه وه، د نورو کليوالو وارخطايي سره زما زړه، زما ماشومتوب، بې‌قرار و. پلار مې تازه يو نوی کور اباد کړی و. هلته مو شپې تېرولې. هغه د سردار داود خان د رژيم په ړنګېدو خفه وو او د کمونيستي رژيم څخه ناراضه ښکاريده. کله ناکله به يې د وطن پرېښودو خبرې کولې، چې وروسته بيا په حقيقت بدل شوې، او هجرت زموږ برخليک شو. (دا سيمه نور امن نه ده)... دا د يوه انسان خبره نه وه. دا د يوه غر، يوه نسل، د يوې خاورې فرياد و. لکه د غرونو تر زړه راوتلی آزار، چې يوازې هغه خلک يې اوري، څوک چې وطن يې له خولې نه، له وينې سره تړلی وي. کليوال د مشورې لپاره راټول شول. سپين ږيري خاموش، اندېښمن او له سترګو نه يې درنه پريکړه ښکارېده. (د پناه ځای نشته چيرته بايد ولاړ شو). زه د خپل پلار شاوخوا تاويدم. خبر نه وو چه همدا شپه د يرغل او د تيښتې شپه وه. پلار مې هڅه کوله چې موسکا وکړي، خو د تندي له چينو، او د زړګي له درزا، ما درک کوله چې ويره ورسره ده، يوه داسې ويره، چې حتی غرونه هم پرې وريږي . ماښام څلور بجې وې... او دا هماغه شېبه وه، چې اسمان ژړا پيل کړه. لومړی چاودنه - لکه د قيامت ناقوس، غرونه يې ولړزول. بله - لکه د يوه معصوم زوی چيغه، چې د مور زړه وڅوي. دربيمه، څلورمه، پنځمه... شمېر ورک شو. هر غږ د مرګ زېری و، هر درز يو خوب له منځه وړ. موږ د کور په يوه څنډه کې د ځان خونديتوب لپاره يوه څمڅه جوړه کړې وه او ټول همالته ولاړو . مور مې زه او ورور مې کلک په غېږ کې نيولي وو. د هغې ساه تېزه وه، خو غږ يې ارام: (دا د آسماني تندر غږونه نه دي، زويه... دا د روسانو لخوا بمونه، توپونه دی). زما ماشومتوب لا تيار نه و چې دا حقيقت درک کړي. (ولې روسان توپونه واروي؟ موږ خو څوک هم نه دي وژلي)... د غرونو شاته، د بيم چهلويک توپونه يو بل پسې

(c) ketabton.com: The Digital Library


توغېدل . د روسانو له ستر نظامي مرکز، ثمرخیلو نه، هر انداخت د قیامت ناقوس و. د ماشومانو ژړا، د میندو چیغې، د سپین‌ږیرو دعاوې، د خاورو بوی، د وینو تودوخه، د شگو پر سر پریوتي یادونه ... دا شپه زموږ لپاره یوه دوره نه، بلکې تاریخ و. د ملت د درد سندره. ما ته دا شپه بې پایه ښکارېده. د زړه هر ټوپ، د یوې نوې چاودنې انتظار و. نه خوب و، نه ارامتیا. یوازې یوه دعا.



(c) ketabton.com: The Digital Library






## دويم فصل

### د باران له څاڅکو نه، د اور له لمبو لاندې


شپه لا روانه وه. توپونه لا هم غرېدل، د آسمان پر زړه يې هرې چاودنې يو نوی زخم پر مڅکه پرېښوده. مور د خپل کور په يوه څنډه کې په ځمځه کې پناه اخيستې وه، يو نيمه تياره، يخ، او لړزانده ځای، چې مرګ تر دروازې ولاړ و، خو ژوند بيا د مور، پلار او د فاميل د نورو غړو تر څنګ ساه ايسته. ماشوم وم، خو د چاودنو شور، زما د عمر له حوصلې ډېر درونډ و. هر توپ چې لګېده، داسې ښکارېده لکه زما زړه چې ټوټې کېږي، لکه چې پر هرې چاودنې زما ماشومتوب يوه بله چيغه وهي. غوږونه مې دردېدلي وو، خو له هرې چاودنې وروسته د ماشومانو نري - نري غږونه د وېرې او ژړا چيغې زما ذهن کې لکه د شيشې د زړه ماتېدنه ټکرېدې. مور مې ټول بچيان خپل غېږ ته رانغاړلی وو، د څادر لاندې مې د هغې د تودو لاسونو حرارت حسېده، خو توپونو د هغې تودوخه هم يخوله. دا د هغې لاسونه وو، خو نه شړښت کولی شو، نه ژړا. يوازې يوه ارامه، خو سخته دعا: (خدايه، د ماشومانو ساتنه وکړه)... شونډې يې ونه خوځېدې، خو دعا يې د زړه له تله پورته کېده. دا يوازې د يوې مور دعا نه وه، دا د يوه ولس چيغه وه، ټول کلي ټوله قريه په چغو وو، داسې چيغې چې اسمان ته پورته شوې، خو توپونه خاموش نه شول. د فلز له نس نه راوتلي بمونه، د انسان له نس نه راوتلې دعا ته غوږ نه نيسي. د هماغې شپې له زړه نه يو بل غږ راوخوت، لکه تور آسمان ته يو بل تندر :

(c) ketabton.com: The Digital Library


(روسان همدا نن شپه ځمکني يرغل کوي)... دا خبر نه و، دا يوه پرېکړه وه، دا مانا يې درلوده چې بايد لا لاړ شو، چې دا ځای نور خوندي نه دی، چې مرګ راروان دی، او موږ بايد تر هغه دمه وخوځېږو. نه مو ماښام خوړلی و، نه خوب را تېر و، نه کومه دعا قبوله شوې وه، يوازې ژوندي وو، همدا کافي وه .موږ پاڅېدو. له هر بدن سره يوه زړه نښتی و. د شپې تور غرونه، د جنګ تر سيوري لاندې، لکه د قيامت د ورځې زېری، زموږ مخې ته ولاړ وو .د ماشومانو لاسونه د مور پلو ته نښتي وو، د پلار سترګې پر آسمان، خو اميد د خاورې نه راوتی ژوبل و، خو ژوندی. يوه اوږده، خاموشه کاروان، لکه زخمي وطن، د خوړونو او کنډوونو پر اوږو پورته روان و. چا پښه راکاږه، چا زړه راکاږه، خو ټول روان وو. جنګ يوازې ټوپک نه دی، دا هغه قدمونه هم دي چې له وطن نه د تېښتې نيت لري. او توپونه لا هم غړېدل... د سرونو پر پورته لارو، د غره پر لمنو، د اور لمبې لکه د دښمنه خوله، چې زموږ د خاورې پر مخ تېرېږي. موږ روان وو، خو د وطن هر انچ، لکه د زړه له غوښې نه، يو ځل بيا کنده کېده. پنځه ساعته روان وو، د شپې، د تيارو، د يخ، د وېرې، او د چاودنو تر څنګ. کوچنيان ستړي، د خوب له تنده وچه خوله، خو د ژوندي پاتې کېدو هيله يې پر پښو نيولې وه. مور مې زه کش کشکولم، پلار مې ورور په شا تړلی و، لکه زخمونه چې پر اوږو بار وي، خو نه پرېږدي چې پر ځمکه ولوېږي. د يوه ځای نه بل ته، د يوه کنډو نه بل ته، د اميد له يوې ورځې نه بلې ته، په پای کې د اتران يوې وړې سيمې ته ورسېدو. هلته مو يو څه سا واخيسته خو دا ساه هم سمه نه وه، دا د غمونو تر منځ يو لنډه وقفه وه، نه خوشحالي، نه ارامتيا. هلته هم خلک په شور و، وارخطا، سترګو بېرته لاره لټوله - داسې ښکارېده لکه هېڅ ځای خوندي نه وي. (روسان په ټولې ولسوالۍ يرغل کوي)... او بيا مو بېرته مزل شروع کړ، بېرته غرونه، بېرته تياره، بېرته وېره. موږ لا خوځېدو، دا ځل نه د نجات لپاره، بلکې د مرګ نه د تېښتې لپاره. دا توره شپه، دا بې‌پايه لار، دا زخمي وطن ټول شاهدان وو، ټولې

(c) ketabton.com: The Digital Library


قريې مخ پورته ځنګلونو خواته په حرکت وو. شپه لا روانه وه، خو سهار نږدې و. خو دا سهار نور هغه سهار نه و، چې مرغۍ پکې چغې وهي، يا ماشومان له خوبه راپاڅېږي. دا يو ويرجن سهار و د ثاني کنډو د ونو لاندې، د ژوندي پاتې کېدو يوه بله هڅه، يوه بله چيغه، يو بل مات اميد. او زه لس کلن ماشوم، دا هر څه د خپلو سترګو، د خپل زړه، او د خپل ذهن پر پرده ليکم. نه له قلم سره، نه له کاغذ سره، بلکې د زخمي ماشومتوب له حافظې سره. زه د ماشومتوب د لوبو پر ځای، د مرګ شېبې يادوم. زه د جنت پر ځای، د غار د تيارو ياد لرم. زه لا ماشوم وم، خو خدايه... ما لا ماشومتوب نه و ختم کړی، خو د بمونو د باروتو بوی او ويرې مې ژوند پيل کړی و.



(c) ketabton.com: The Digital Library







## درېيم فصل

## په کنډو کې زړونه ماتېږي


د ثور د مياشتې نهه ويشتمه سهار وختي و، خو شپه لا د غرونو پر سر لکه تور کفن پرته وه. د سپوږمۍ زوړ، زېړ مخ په وريځو کې پټ و، او يخ بادونه، چې د شپو د دردونو غچ يې اخيسته، له هرې خوا سره چيغې وهلې. د ثاني کنډو ته چې ورسيدو، لمر لا هم زړه نه و کړی چې را وخيژي. لکه لمر هم زموږ د برخليک له شرمه پناه اخستې وه. زموږ کاروان ته چې وګورې، نو نه انسانان وو، نه روان خلک، بلکې د روحونو يوه خاموشه جنازه وه. هر څوک يو مات ياد، يوه سوې خاطره، او يوه نه هيريدونکې ويره پر شا بار کړې وه. يوه جنازه، چې لا سا يې پاتې وه، خو زړه يې څو ځله مړ شوی و. يو سل او لس کسان... سل او لس مات تقديرونه. ماشومان، چې د خپلې مور د لمنې تر سيوري هم ډاډه نه وو. ښځې، چې سترګې يې له اوښکو وچې وې، لدې نه چې غم نه و، بلکې ځکه چې اوښکې يې هم پرې شاکي شوې وې. سپين‌ږيري، چې د ژوند اوږده کيسه يې تر شا پرېښودې وه، خو اوس يې د مړينې کيسه هم اوږدېده. او ځوانان، چې لا د ژوند خوبونه يې نه وو ليدلي، خو د مرګ د قدمونو شور يې ويده کړی و. ټولو له يوه چا سترګې پټولې: مرګ - مرګ، چې نه يې لاس و، نه توره، نه غږ و، خو هر ځای حاضر

(c) ketabton.com: The Digital Library


و لکه سیورې، لکه باد، لکه قسمت. هلته، د نخترو دنگو ونو تر سیوري لاندې، مور سا واخیسته. خو دا سا نه وه، دا د زخمي امید یوه وروستۍ سلګۍ وه. پلار مې، چې تل غږ یې پیاوړی و، ورو غږ وکړ: (همدلته دمه کوو)... خو دا دمه نه وه، دا یوه دعا وه، چې د زړه له درده راوتلې وه. یوه دعا، چې شاید اسمان هم د اورېدو زغم نه درلود. ناڅاپي، لکه د زړه په منځ کې چا چاړه راښکلې وي، یو بل خبر راورسېد: (روسانو ځمکني عملیات شروع کړل او د ولسوالۍ ودانۍ ته رسېدلي. او له هماغه ځایه پورته غرنۍ سیمو ته خېژي راروان دي)... دا خبرې نه وې، دا د ویرې د زلزله غږ و. خاموشي شوله، خو دا خاموشي د سولې نه، بلکې د باور مرګ و. خلکو یو بل ته وکتل، خو هېڅ یې ونه ویل، ځکه درد کله کله دومره لوی وي، چې ژبه ورته بنده شي. ماشومان غېږو ته راغلل، لکه مړو جانونه، چې د امید تر ښېس سره پناه اخلي . ښځې بیا بیا د خپلو اولادونو سرونه ښکلول، لکه دا وروستۍ دیدن وي، لکه هر ښکل یو وصیت وي. یوه مور، چې خپل ماشومان یې د ټادر تر پوښ لاندې کلک نیولي وو، سترګې یې آسمان ته پورته کړې: (خدایه، که ما اخلې، خو دا ماشومان مې وساته)... او دا خبرې دومره خوږې نه وې، لکه د درد یوه وریځ، چې د ټول کاینات پر سر ګرځي. هلته، د درې نور په هواره کې، هر څه له منځه تللي وو. کورونه نه وو، بلکې سوځېدلي خوبونه وو. خلک نه وو، بلکې سکروټې وې. څاروي، ونه، حتی خاوره، ټول په ژړا وو. مور چې دا واورېدل، زموږ پر زړونو داسې بار راښکته شو، لکه له آسمانه راپرېوتۍ لوی کاڼی. انجونو ژړل، ماشومانو سا نه اخیسته، سپین‌ږیرو یوازې آسمان ته کتل، او د زړه د بندېدو شېبې یې شمېرلې. مور پوهېدو: دا لا پیل دی. او مور حرکت وکړ، خو دا ځل د تګ قدمونه نه وو، دا د هجرت چیغې وې د واماګل ځنګلونو ته. د نخترو دنګو ونو، د څیړیو غټو بوټو تر سیوري لاندې، ځانونه مو پټ کړل. لاره دومره سخته وه چې غرونو زمونږ له پښو څپلۍ وشلولې، پښو مو تناکې وکړې او د څیړیو اغزیناکو پاڼو مو پښې سورۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library


کړې، پښو مو اوبه واخيستې او د دردونو يوه آه وه. له آسمانه، د جنګي الوتکو غړونه، توپونه، بمونه ... خو زموږ زړونه لا ددې غړونو نه مخکې چورليدلي وو. چې واماګل ته ورسېدو، نو يخ، ولږه، ويره، سترړيا ټول زموږ انتظار ته ناست وو. نه خواړه، نه جامې، نه بستر. يوازې يوه جوړه کالي، چې اوس هم د شپې د لمدو شغلو نه يخ وو. د شلخی بوټي پاڼې مو خوړل، لکه د ژوند يوه نه ليدل شوې معجزه. هره پاڼه د هيلو يوه خړه نښه وه، او هره مړۍ د ژوند له مرګه د غلا شوې لحظه. او بيا، د ځوانانو قرباني، هغوی چې لا يې د ژوند خوند نه و ليدلی، د نورو د بقا لپاره روان شول. نه د جنګ لپاره، بلکې د دوو مړيو ډوډۍ لپاره. يوه ژرنده يې پيدا کړه، يو څاروی يې پيدا کړ، يو بوری اوړه... دا وه زموږ وياړ. دا وه زموږ فتحه. د جګړې پر وړاندې زموږ خاموشه بريا. خو غوښه د اور پر لرګيو غورځول شوې نيمه خامه نيمه پخه، هغه ډوډۍ هم نيمه پخه وه، نيمه خامه، لږه، وچه، او ساړه. خو موږ وخوړه، او د زړونو اور ته مو سا ورکړه. دوه مړۍ، خو د اميد يوه دنيا. خامې غوښې ځينې کسان ناروغان کړل، خو د روسانو لخوا د مرګ ويری ناروغې له هر چا هيره کړې وه.



(c) ketabton.com: The Digital Library







## څلورم فصل

## واماگل - د يخنۍ، ولږې او دعاوو شپه

د ۱۳٦۴ هجرې شمسي کال د ثور د مياشتې ۲۹ تاريخ ناوخته مازديگر وو. خو دا عادي مازديگر نه و. دا د تاريخ هغه مازديگر وه چې هره شېبه يې د زړونو پر ديوالونو چاړه کښله. د دوه ورځو مسلسل مزل دوهمه شپه شوه، خو نه ارامه، نه خاموشه، بلکې د چيغو، دعاوو، او د باد د واويلا شپه. د واماگل شنې ونې، هغه نخترو چې پخوا به يې سيورى ډاډ و، اوس د يوې زخمي مور په څېر ساوې وېستل. د ځيرېيو بوټي، لکه زاړه بڼې، د باد له هر گوزاره سره ژړل، خو بې غږه، يوازې له دننه. زموږ کاروان، د خوړ پر غاړه، د يوه کوچني اور شاوخوا ناست و، خو دا اور هم، لکه موږ، ستړى ښکارېده. نه يې د لوږې مخه نيولى شوه، نه د يخ باد، او نه يې د مرگ د سيوري لمنه سوځولې وه. ځوانانو، له تنو څخه وچې ټوټې راشلې کړې، د ونو شاخې يې ماتې کړې، فقط دې ته چې اور وساتل شي . خو اور يوازې اور نه و، دا د ژوند وروستۍ هڅه وه. يوه زغرده تبه، چې شايد زموږ ساوې ورسره ژوندي پاتې شي . سپينږيري، چې پخوا به يې د ژوند حکايتونه ويل، اوس له آسمان سره خاموشې خبرې کولې. د هغوى دعاوې، د باد غبږ ته لوېدلې، خو معلومه نه وه چې آسمان دا غږونه اوري، که نه. ماشومان له هر چا پناه


(c) ketabton.com: The Digital Library


غوښته، خو څوک پناه ورکوونکی نه و پاتې. (یوه شپه بله شپه نه شي، خدایه)... دا خبره د یوې سپین سرې ښځې له خولې ووتله، خو لکه د ټول کاروان د زړه فریاد و. دا جمله، له دعا هم اوچته وه، دا د زړونو ژړا وه، چې ژبه یې پیدا کړې وه. زه، د لسو کلونو ماشوم، تر ملا مې دوه کلن ورور تړلی و، د مور تر څنګ ناست وم . مور مې چوپه وه، خو لاسونه یې د دعا لپاره لپه نیولي وو. د هغې لاسونه یخ وو، خو د دعا تودوخې زموږ د یخ زړونو لپاره تر تاوده اور هم ډېر مهم و. موږ ژوندي وو، هو، خو دا ژوند له مرګه هم دروند و. داسې ژوند، چې نه سا پکې ارامه وي، نه خوب، نه هیله، نه راتلونکی. یوازې شپه، شپه، شپه ... ماشومان ناروغ شول. تبه، یخ، ولږه او هیڅ دوا نه وه. ډاکټر نه و، یوازې یوه دعا وه، چې د هر زړه له ټوټه - ټوټه کیدو سره یې پورته کوله. دعا نه د دوا پر ځای وه، نه د خواړه پر ځای، خو همدا یوازینی شته نعمت و. ځوانانو بیا حرکت وکړ چې د یو سل او لسو کسانو لپاره څه خواړه پیدا کړي. د واماګل یوې لرې خوا ته، له یوه کلي، یو بوری اوړه له یوه کلي یی پیدا کړل. کله چې بیرته راغلل، د خلکو سترګو کې د ستړي امید یوه شغله بله شوه. ډوډۍ یې پر پلنو تیږو پخه کړه، خو دومره لږه وه، چې هر کس ته فقط دومره حصه ورسېده، چې ژوند یی بند نه شي. خو دا نیمه مړی، د ژوند یوه موسکا وه. لکه ماشومان چې له اوږدو ویرونو وروسته، د شیدو یو څاڅکی پیدا کړي. ما ته هغه شپه داسې ښکاره شوه، لکه موږ د وخت له یوه درز څخه تېرېږو، چې نه مخکې یې معلومیږي، نه وروسته، یوازې دا یوه شپه ده، چې باید تېر شي. خو دا شپه اوږده وه. سخته وه. د زړه د طاقت تر بریده درنه وه. د شپې وروستیو ساعتونو کې، ناڅاپه د فضا غږ بدل شو. له آسمانه، د مرګ مرغان راغلل، دوې هلیکوپترې. د بمونو، توپونو، او د اور وژونکو سترګو سره، زموږ پر سر را وګرځېدې. خلک یو ځل بیا له وېرې ټوټه شول. ماشومانو چیغې وهلې، ښځو بچیان راټول کړل، سپین‌ږیري پر خاورو پرېوتل. ټولو د خوړ له څنګ څخه ځنګله خوا ته منډې


(c) ketabton.com: The Digital Library


**کړې، د ونو تر شا، تر بوټو لاندې، تر دنگو نخترو ونو لاندې پټ شول. زه، د نخترو په منځ کې، خپل کوچنی ورور تر ملا تړلی، ویده نه وم، ویښ هم نه وم، یوازې د اسمان خواته مې کتل. هلته، هلته چې هلیکوپترې گرځېدې، او ما غږ نه درلوده، فقط یوه پوښتنه مې د زړه له سوره راووتله: (ایا ژوند به بیا بېرته راشي؟) او دا پوښتنه، شاید نه یوازې زما، بلکې د ټول قوم د زړونو چیغه و. خو اسمان خاموش و...**





(c) ketabton.com: The Digital Library


## پنځم فصل

### د دردونو وروستۍ ساه... يا د اميد لمبه؟

د واماګل د ځنګله تر ونو لاندې، څلور اوړدې، سا سړې، او وېرې ډکې شپې تېرې شوې. شپه وه، خو خوب نه و. د هرې ونې سيورې، د بمونو د اور نه تېر شوی و، د هرې پاڼې پر مخ، د يوې مېرمنې يا ماشوم د سترګو اوښکه پاتې وه. روس، تر ټانې کنډو راختلي وو. هغوی، چې رحم نه پېژانده، نه پر ماشوم، نه سپين‌ږيري، نه ښځه، نه څاروی. هر څوک چې ورته پر لار برابر شوی و، د مرګ پر غېږ ور لوېدلی و. ټول ولس د ځنګلی غرونو دننه، د خدای تر سيوري لاندې، د ژوند د يوې وروستۍ تمې سره تښتېدلی و. خو بخت يوه شېبه د دې ولس خوا ته شو، روسان د ټانې کنډو څخه بېرته وګرځېدل. د جلال‌اباد پر لور يې مخ واړاوه، يوازې د ولسوالۍ په انګړ او څو نورو سيمو کې يې پوستې پرېښودې، چې داخليو مليشو ته وسپارل شوې. هغوی هم د يرغل په نوم، د ولس پر ضد هر ظلم وکړ، خو دا ولس، چې غرونو ته يې کډه کړې وه، نه شو ماتېدلی. مجاهدين له نښترو پوښلي غرونو بيرته را ووتل. هغوی، چې د بې وسۍ له منځه، د دعا په ژبه سنګرونه نيولي وو، بېرته راستانه شول. او د روسانو لخوا په جوړو شوو پوستو يې دوامداره چريکي جګړو ته دوام ورکړ. خو له جګړې وړاندې، يوه بله صحنه هم روانه وه کاروان، ولس، د خدای له رحم سره، بېرته خپل کلي ته راکوزېده .

(c) ketabton.com: The Digital Library


موږ هم راکوز شو... خپل کلي ته. خو دا کلی نور هغه کلی نه و. د خندا، لوبو، د مور د بوی، او د ماشوم د پښو شور نور نه و. يوازې کنډوالې وې. سوځېدلي کورونه، خاورې شوې کوڅې، او د مرگ خاموشي چې پر هره دروازه ناسته وه. زه، د خپل ورور سره، خپل زوړ کور ته ورسېدم. چت نيم سوځېدلی و، خو لا يې د مور د لاسونو بوی ژوندی ساتلی و. زنگون پر ځمکه کښېناستم، او خپل کوچنی ورور مې له ملا ښکته کړ. ټول کورنۍ راورسېده. پلار، د دروازې تر څنگ ودرېد، او له زړه نه راوتې ټکي يې وويل: (ژوند بېرته راغی... خو هېڅکله به پخوانی نه شي.) او دا خبره، د ټول ملت د زړونو سندره وه .دا يوه اوښه وه... خو د يو نسل لپاره يوه پېړۍ وه. زمونږ په سيمه د روسي يرغل دا اووه ورځې، يوازې د تېښتې، د بمونو، او د ړنگو کورونو کيسه نه وه، بلکې د زړونو، دعاوو، او اميدونو آزموينه وه. موږ، چې د ښترو تر ونو لاندې مو ژړل، ژوند ته مو بيا غېږ ورکړه. موږ، چې د شلو شلخيو پاڼې مو خوړلې، ژوندي پاتې شوو. نه ځکه چې وس مو درلود، بلکې ځکه چې ايمان مو درلود. موږ له مرگه وويريدو، خو له ژوند تښتېدلي نه وو. د ماشوم د ژړا، د مور د سترگو، د پلار د خاموش فرياد، او د خدای د رحمت ترمنځ، دا وطن ژوندي پاتې شو. موږ د بمونو تر غږ لاندې دردونه هم زغملای شو، موږ د کنډوالو تر منځ دعا هم کولی شو، او موږ له خاورو بېرته ژوند هم را پورته کولی شو. ځکه دا خاوره زموږ ده، او موږ يې د سترگو په اوښکو، د زړونو په دعاوو، او د هيلو په وينو گټلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د ليکوال پيغام

دا ناول، يوازې د روسي يرغل يوه کيسه نه ده. داسې زرگونه پيښې د روسې يرغل په وخت کې د هيواد په هر گوټ کې تکرار شوي دي. دا د هغو زرگونو افغانانو د زړه چيغه ده، چې له خپلې خاورې، خپلې کورنۍ، او خپل عادي ژوند څخه په يوه شپه بې برخې شول. دا کيسه د هغه ماشوم ده، چې له خپل کورنۍ سره د اور، يخنۍ او مرگ تر سيوري لاندې د ژوند تمه لرله. دا د هغې مور غږ دی، چې د خپلو اولادونو د ژغورنې لپاره يې آسمان ته سترگې پورته کړې. که د دې ناول له کوم کرکټر سره دې ځان يو حس کړی وي، که دې اوښکې راوتلې وي، که دې زړه دروند شوی وي، نو دا - دا معنا لري چې موږ لا هم ژوندي يو. زموږ وجدان لا هم ويښ دی. دا ليکنه، د تسليمۍ نغمه نه ده، بلکې د اميد ناره ده. د هغو خلکو ناره، چې له هرې بلا، له هر بم، له هرې حملې وروسته بيا هم خپل ماشومان ېی پورته کړل، د دعا لاسونه يې آسمان ته پورته کړل، او ژوند ته يې (هو) وويل .زه دا ناول د ټولو هغو شهيدانو ارواوو ته ډالۍ کوم، د هغو ميندو شونډو ته، چې بې له ناره سوځېدلې، او د هغو ماشومانو سترگو ته، چې د وطن رڼا يې تر ټولو مخکې وليده، خو د ژوند تودوخه يې ونه مونده. که څه هم د تاريخ پاڼې تل د ځواکمنو له خوا ليکل شوي، خو دا کيسه د هغو خلکو غږ دی چې ټپي وو، خو مات شوي نه وو. او دا غږ به تل پاتې وي.

**تر څو چې يو افغان وي تل به دا افغانستان وي**

**زما له زړه نه، ستاسو د زړه لپاره**

**انجنير سيد احمد شاه سادات**

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**